صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان



۹۳
شماره

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د وياند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: جمادی الثانی ۲۲، کال ۱۴۴۷ هجري قمري

فشردهٔ مهمترین‌های این شماره:

## گام‌های مؤثر در توسعه ملی و تقویت روابط بین‌المللی


در روزهای اخیر، امارت اسلامی افغانستان در زمینه‌های روابط خارجی، تطبیق پروژه‌های ملی و ظرفیت‌سازی جوانان، اقدامات مهم و دستاوردهای قابل توجهی داشته است.

رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان در مراسمی، اعتمادنامه سفیر جدید قطر در افغانستان را پذیرفت. ایشان ضمن قدردانی از همکاری‌های قطر، ابراز امیدواری کردند که این گام، بیش از پیش زمینه‌ساز تقویت روابط دیپلماتیک و گسترش همکاری‌های دوجانبه گردد.

کمیسیون تدارکات ملی، ۱۱ پروژه به ارزش بیش از یک میلیارد و ۵۳۸ میلیون افغانی را تصویب کرد. این پروژه‌ها شامل بازسازی...

۲

# د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء د قطر د نوي سفير باورليک ومانه



د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء محترم الحاج ملامحمد حسن اخند د افغانستان لپاره د قطر د نوي سفير ښاغلي مردف بن علي القاشوطي باورليک د يو لړ تشريفاتي مراسمو په ترڅ کې ومانه. په ګلخانې ماڼۍ کې په دې مناسبت جوړو شويو مراسمو کې چې د بهرنيو چارو وزير محترم مولوي اميرخان متقي او د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس ډاکتر ملا عبدالواسع هم حضور درلود، محترم رئيس الوزراء د قطر نوي سفير ته ښه راغلاست وواېه...

۲

## سرمقاله


## قادس لوی بند؛ د بادغیس د هیلې او پرمختګ نوې کیسه

بادغيس، د خپلو زړورو بادونو او د طبيعي ښکلا له شهرت سره سره، له اوږدې مودې راهيسې د اوبو د کمښت له ستونزو سره مخ دی. د دې ولايت خلک د هر څاڅکي اوبو په لټه کې دي، ځکه چې هره څاڅکه د کروندګر د هيلې څرک، د مالدار د ژوند تکيه او د کليوالو د سبا رڼا ګڼل کېږي. همدا اړتيا او هيلې د قادس د لوی ذخيروي بند د جوړېدو الهام وګرځېده؛ يوه پروژه چې يوازې د اوبو ذخيره نه ده، بلکې د سلګونو کورنيو د سبا د هيلې بنسټ دی.


قادس لوی بند د بادغيس د پراختيا نقشه کې يو مهم ټکی دی چې د تحول، ثبات او اقتصادي ودې نوې کرښه ترسيموي. کله چې...

۲

# ملي تدارکاتو کميسيون د څه باندي ۱.۵ ميلیارده افغانيو په ارزښت ۱۱ پروژې منظورې کړې







د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه. دې غونډې ته ۳۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. په غونډه کې له هراړخيز بحث وروسته د څه باندې يو ميليارد او ۵۳۸ ميليونو افغانيو په ارزښت ۱۱ پروژې...

۵

## د رياست الوزراء اداري مرستيال د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو عمومي عملياتي رئيس سره وکتل

۶

## اشتراک و سخنرانی معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم فراغت محصلین انستیتوت تعلیمات تخنیکی و مسلکی

۲

## په پکتيکا کې د پلتوني بند چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې

۵

## اهمیت آسایش و رفاه مردم نزد حکومت

امارت اسلامی افغانستان آسایش، آرامی و رفاه مردم را در اولویت اساسی کاری خود قرار داده و تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه را در سراسر کشور با جدیت دنبال می‌کند. در نتیجه این توجه، ده‌ها پروژه در بخش‌های سرک‌سازی، آب‌رسانی، برق، اعمار مکاتب و مراکز صحی در مرکز و ولایات آغاز و یا تکمیل گردیده است. این اقدامات، علاوه بر بهبود مستقیم زندگی مردم، زمینه رشد اقتصادی، ایجاد شغل و تقویت ثبات را فراهم ساخته است. امارت اسلامی تأکید می‌نماید که روند عمران و آبادی، بازسازی با شفافیت، سرعت و کیفیت لازم ادامه یافته و هیچ ولایت از دایره توجه، محروم نخواهد ماند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## د پروان د باريکاب صنعتي پارک لپاره د سب‌سټېشن د جوړولو پروژه منظوره شوه

۲

## نجات ۱۴ زن از خشونت خانوادگی در ولایت لوگر

۵

فشردهٔ مهمترین‌های این شماره:

## گام‌های مؤثر در توسعه ملی و تقویت روابط بین‌المللی

...بخش‌هایی از میدان‌های هوایی کابل و غور، ساخت و ترمیم سرک‌ها، ایجاد و نصب سب‌استیشن‌های برق و خرید تجهیزات معدنی می‌باشد. در اقدامی دیگر، امارت اسلامی افغانستان همکاری‌های خود را با ایران در زمینه تولید و صادرات دارو و تجهیزات پزشکی گسترش داده است. معاون اقتصادی ریاست الوزرا در دیداری با معاون وزارت صحت ایران، بر استمرار همکاری‌های بلندمدت در این حوزه تأکید کرد.

همچنین، در ولایت پکتیکا، ساخت بند پلتونی با ۲۵ درصد پیشرفت همراه است که ظرفیت آبیاری ۲۵۰۰۰ هکتار زمین زراعتی و تولید یک میگاوات برق دارد.

به همین ترتیب، در ولایت پروان، سب‌استیشن ۲۰/۲۲۰ کیلوولت به ارزش حدود ۳۶۰ میلیون افغانی زیرساخت‌های برقی را تقویت کرده و رشد صنعتی و سرمایه‌گذاری را تسهیل می‌کند. این پروژه‌ها به طور کلی رشد اقتصادی، توسعه صنعتی و بهبود خدمات بنیادی را تقویت می‌کنند.

مراسم فراغت ۳۵۰۰ محصل انستیتیوت تعلیمات تخنیکی و مسلکی نیز برگزار شد. معاون اداری ریاست الوزرا در این مراسم، محصلان را تشویق کرد و نقش آنان را در آبادانی کشور برجسته نمود.

رئیس عمومی عملیاتی حفاظت ملکی و کمک‌های بشری اتحادیه اروپا در دیداری با معاون اداری ریاست الوزرا، بر ادامه کمک‌ها به مردم افغانستان تأکید کرد. در این دیدار، موضوعات مرتبط با کمک‌های بشری، بازگشت مهاجران و ایجاد فرصت‌های شغلی برای جوانان مورد بحث قرار گرفت.

در اقدامی بی‌سابقه، ۱۴ زن که سال‌ها قربانی خشونت‌های خانوادگی در ولایت لوگر بودند، با تلاش و پی‌گیری جدی ریاست امر بالمعروف نجات یافتند. از جمله، زنی که بیش از ۵۰ سال در اسارت خانگی بود، رهایی یافت و نیز از وقوع سه ازدواج اجباری جلوگیری شد.

تحولات اخیر نشان می‌دهد که امارت اسلامی افغانستان همزمان بر تقویت روابط بین‌المللی، توسعه زیرساخت‌ها و حمایت از جامعه و جوانان تمرکز دارد. اقدامات ملموس در زمینه پروژه‌های ملی، همکاری‌های منطقه‌ای و حمایت از زنان، بیانگر اراده دولت برای آبادانی کشور، رفاه عامه و پیشرفت پایدار است.

سرمقاله

## قادس لوی بند؛ د بادغیس د هیلې او پرمختګ نوې کیسه

...د اوبو هر څاڅکی د زرو د دانې په ارزښت وي، نو د دې بند جوړول د دولت د عملي ارادې څرګند ثبوت دی. دا پروژه د هرې هغه خاورې لپاره د امید پیغام دی چې د وچکالۍ له ننګونو سره بلد دی، او د هر کروندګر لپاره د خوښۍ زېری دی چې د حاصل پر امید خاوره کري.

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د بنسټیزو او اوږدمهالو پرمختیایي پروژو په پلي کولو بوخت دی، چې د بادغیس د قادس ولسوالۍ د لوی بند پروژه یې ځانګړې اهمیت لري. دغه بند د بادغیس له مرکز قلعه‌نو څخه شاوخوا ۷۰ کیلومترۍ کې د قادس سیند پر اوبو ولاړ دی او د سیمه ییزو اوبو د مدیریت په برخه کې حیاتي رول لري. دا نه یوازې د سیلابونو د خطر کمولو کې مرسته کوي، بلکې د کرنې او مالدارۍ اړتیاوې هم پوره کوي.

د بند د اوبو ظرفیت نږدې درې میلیونه متر مکعب ته رسېږي. یاد بند د ۳۲ مترو په ارتفاع جوړه شوې او د شاوخوا ۱۲.۵ میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت د وزارت د پراختیایي بودیجې له لارې تمویل شوې، چې د دولت د اقتصادي خودکفایۍ او ملي پروژو په تمویل کې مثبت ګام ګڼل کېږي. اوس مهال د بند کار څه د پاسه ۶۰ سلنه بشپړ شوی، چې د چټکۍ او ښه مدیریت څرګندوی دی. د بند بشپړېدل به شاوخوا ۱۴۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه کړي، د سیمې کرنیز تولید زیات کړي او د مالدارۍ په پراختیا کې مرسته وکړي.

قادس لوی بند یوازې د اوبو ذخیره نه ده؛ دا د بادغیس د کروندګر، مالدار او هر کلیوال د ژوند د بدلون یوه ژمنه ده. د دې بند له بشپړېدو سره به زرګونو کورنیو ته دوامداره اوبه برابرې شي او د کرنې، مالدارۍ او اقتصادي ودې نوې لارې به پرانیستل شي. دغه پروژه د دولت د عملي ارادې، د خلکو د هڅو او د اوږدمهالو پراختیایي پلانونو ښکاره ثبوت دی.

قادس لوی بند د هر کورنۍ لپاره د امید څرک، د هر بزګر لپاره د حاصل ضمانت او د هر ماشوم لپاره د رڼا او ارام ژوند زېری دی. دا پروژه د بادغیس د خلکو د دردونو پای او د هیلې د نوې کیسې پیل دی.

## د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د قطر د نوي سفیر...



...د افغانستان لپاره د قطر نوي سفیر د خپل هیواد د مشرتابه سلامونه او نیکې هیلې دافغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند ته وړاندې کړې او وې ویل، هیواد یې د اسلامي امارت او افغان ولس نېکمرغي او پرمختګ غواړي.

محترم مردف بن علي القاشوطي د اسلامي امارت هرکلي څخه په مننې په افغانستان کې پر خپل نوي ماموریت خوښي وښوده او ویې ویل؛ دا زما لپاره د ویاړ ځای دی چې په افغانستان کې د قطر د سفیر په توګه خپله دنده پیلوم او ژمنه کوم چې دقطر او افغانستان د اړیکو او همکاریو د لاپیاوړتیا لپاره به دوامداري هڅې وکړم.

د اسلامي امارت محترم رئیس الوزراء هیله څرګنده کړه، چې د قطر د نوي سفیر معرفي کېدل د دواړو هیوادونو ترمنځ د موجوده ډیپلوماتیکو اړیکو د لاپیاوتیا ذریعه شي. همدارنګه یې له نوموړي وغوښتل چې د ده سلامونه او نیکې هیلې د قطر هیواد مشرتابه ته ورسوي.

محترم رئیس الوزراء د افغانستان او قطر ترمنځ تاریخي اړیکو ته په اشارې ووېل، قطر هیواد په ډېرو سختیو کې له موږ سره همکاري کړې چې مننه یې کوو. الله تعالی دې وکړي چې زموږ په اړیکو او همکاریو کې لاښه والی او پرمختګ راشي.

ورپسې د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیرخان متقي د افغانستان لپاره د قطر د نوي سفیر په مقررۍ چې د سیاسي دفتر له وخته د اسلامي امارت له مشرانو سره بلد دی خوښي وښوده او نوموړي ته یې د لازمې همکارۍ د ډاډ ترڅنګ په خپل دغه نوي ماموریت کې د بریالیتوب هیله وکړه.

## اشتراک و سخنرانی معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم فراغت محصلین انستیتیوت...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم فراغت سه هزار و پنج‌صد تن از محصلین انستیتیوت تعلیمات تخنیکی و مسلکی زون پایتخت کشور اشتراک و سخنرانی کرد.

در این مراسم معاون اداری ریاست الوزراء ابتدا با تشکر از تدویر این مراسم باشکوه، فراغت همهٔ محصلین را به خود آنها، خانواده‌های شان، اساتید و همهٔ مسئولین ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی تبریک گفت و ابراز امیدواری کرد که این جوانان بتوانند در حفاظت و تقویت نظام اسلامی و همچنان پیشرفت و ترقی کشور سهم خود را ادا نمایند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی افزود که بعد از نیم قرن جنگ‌های تحمیلی، مبارزهٔ نظامی و با تحمل قربانی‌ها و تکالیف فراوان در وطن عزیز ما، امنیت و آرامی تأمین شده، انارشی و هرج و مرج به کلی از میان رفته است؛ ملت افغانستان اکنون متحدانه و در یک صف واحد تحت یک نظام اسلامی به طرف توسعه و رشد درحال حرکت هستند.

معاون اداری ریاست الورزاء تصریح کرد که تمام سعی و تلاش امارت اسلامی بر آبادی متمرکز است و چنانچه افغانستان را از اشغال آزاد کردیم به همان گونه نیز آباد خواهیم کرد، ما بخاطر آزادی و آبادی کشور آمده‌ایم و معتقدیم که کشور را به‌جز از خود افغان‌ها، هیچ بیگانه‌یی آباد نمی‌سازد.

وی خاطرنشان کرد که در اثر جنگ‌های تحمیلی زیربناهای کشور از بین رفته و طی بیست سال اشغال، هیچ نوع کار بنیادی در کشور صورت نگرفته است، ولی با حاکمیت امارت اسلامی امنیت تأمین شده و کارهای انکشافی در سطوح مختلف به شدت جریان دارد و نیز در زمینهٔ رشد زراعت، تکنالوژی و نظام تحصیلی و صحی گام‌های لازم برداشته شده است.

معاون اداری ریاست الوزراء در اخیر سخنانش از فراهم بودن تسهیلات لازم جهت فراگیری علوم و کسب مهارت‌ها برای جوانان اطمینان داد و گفت که مسئولین امارت اسلامی تلاش می‌کنند تا جوانان کشور با زیور علم آراسته شده و مصدر خدمات ارزنده به نظام اسلامی، ملت و کشور خود شوند.

## د کابل ختیځ پُل‌چرخي سیمه کې د برېښنایي دروازې(ټولګیټ) د جوړېدو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې


د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د کابل ختیځ پُل‌چرخي سیمه کې د برېښنایي دروازې(ټولګیټ) د جوړېدو چارې له نږدې وڅارلې.

د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت مسوولینو ووېل، د دغه برېښنایي دروازې د جوړېدو چارې د روان کال د سنبلې میاشتې په نهمه نېټه پیل شوې او اوسمهال ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي. د دوی په وینا، د دې پروژې د تطبیق لپاره یو کال وخت په پام کې نیول شوی دی.

اوسمهال یې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره چارې په ښه ډول رواني دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د دې پروژې د لا ښه تطبیق په موخه په یوشمېر برخو کې خپلې سپارښتنې د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت او قراردادي شرکت له مسوولینو سره شریکې کړې او ټینګار یې وکړ، څو د معیار او کیفیت په پام کې نیولو سره یې چارې په ټاکلي وخت بشپړې کړي. همدارنګه د قراردادي شرکت مسوولینو هم د استملاک، شنې ساحې او یوشمېر نورو برخو کې شته ستونزې شریکې کړې او د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم یې د حل ډاډ ورکړ.

دغه برېښنایي دروازه د کابل ښار په پُل‌چرخي سیمه کې په ۱۱.۶ جریبه ځمکه جوړېږي، چې ۱۶۲ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي. په دې برېښنایي دروازه کې له کابل ښار څخه د وتلو او ښار ته د ننوتلو لس لینه سړک، ټول پلازا، اداري تعمیر، مسجد، رستورانټ او د موټرونو تم‌ځای په پام کې نیول شوي دي.

## د پروان د باریکاب صنعتي پارک لپاره د سب‌سټېشن د...



...د پروان ولایت په باریکاب صنعتي پارک کې د ۲۰/۲۲۰ کیلو ولټ سب‌سټېشن د جوړولو پروژه، چې د هېواد په صنعتي وده او د برېښنا شبکې په پیاوړتیا کې اساسي ونډه لري، د اقتصادي کمېسیون له لوري د نږدې ۳۶۰ میلیونه افغانیو په ټولیز لګښت تایید او منظوره شوه.


ټاکل شوې ده، چې دغه پروژه له تړون وروسته په نږدې ۱۸ کاري میاشتو کې بشپړه شي.

د دې پروژې له بشپړېدو سره به نه یوازې د پروان ولایت صنعتي پارک ته، بلکې ګڼو هستوګنیزو ودانیو، سوداګریزو مرکزونو، روغتیایي ادارو او نورو اړوندو برخو ته دوامداره برېښنا برابره شي.

PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #93

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)
Contact Number:
93+ (0) 202100633
Email:
info@gmic.gov.af
Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Prime Minister Accepts Credentials of Qatar's New Ambassador



Mullah Mohammad Hasan Akhund, Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan, received the Letter of Credence of Mr. Mirdef bin Ali Alqashouti, the newly appointed Ambassador of the...ContP#4

# NPC Approves 11 Projects Worth Approximately AFN 1.5 Billion

The regular meeting of the National Procurement Commission (NPC) was held under the chairmanship of Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs.
A total of 30 projects were presented to the meeting for approval. After comprehensive discussions, 11 projects worth more than AFN 1.538 billion were approved, while a series of amendments were made to 15 projects.
In addition, the contract of one project was terminated, one project was reconsidered, and designated committees were tasked with conducting a comprehensive evaluation of two projects and submitting their findings to the National Procurement Commission.
The approved projects include:...ContP#4

# Deputy PM Meets EU Director-General for Civil Protection and Humanitarian Aid

Mawlavi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, met with Mr. Andreas Papaconstantinou, Director-General for Civil Protection and Humanitarian Aid Operations of the European Union, along with his accompanying delegation.
Ms. Veronika Buskovic, Chargé d'Affaires of the EU Delegation to Afghanistan, also attended the meeting.
Mr. Papaconstantinou reaffirmed the...ContP#4

# Rescue of 14 Women from Domestic Violence in Logar Province

Recently, 14 women who were victims of domestic violence in the center and districts of Logar Province were rescued through the sustained efforts of the Directorate of Vice and Virtue, and Complaint Handling. These women, who for years had been deprived of their Sharia rights due to domestic abuse, have now regained their legitimate rights. Among them was a woman in Baraki Barak District who had been held in domestic confinement and subjected to violence for 50 years; she was freed and her Sharia rights were restored as a result of the directorate's efforts.
Furthermore, personnel of the directorate...ContP#4

# Kabul and Tehran Expand Cooperation in the Production of Medicines and Medical Equipment

The Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, met in his office with the Deputy Minister of Health of Iran and Head of the Food and Drug Administration, Mehdi Pir Salehi, along with Iran's Ambassador to Afghanistan, Ali Reza Beikdeli.
During the meeting, the Deputy Minister of Health of Iran stated that Iran is ready to expand its long-term cooperation with Afghanistan in the production of medicines and medical equipment, as well as in increasing their export to Afghanistan...ContP#4

## Editorial

# Qadis Dam: A New Story of Hope and Development in Badghis

Badghis, renowned for its strong winds and natural beauty, has long faced significant challenges related to water scarcity. The people of this province value every drop of water, as each represents the hope of farmers, the livelihood of herders, and the promise of a brighter future for rural communities. It was precisely these needs and aspirations that inspired the construction of the Qadis Large Reservoir Dam; a project that is not merely a water storage facility, but a foundation of hope for hundreds of families.
The Qadis Dam marks a key milestone in Badghis's development trajectory, symbolizing transformation, stability, and economic growth. When every drop of water holds immense value, the construction of this dam stands as tangible evidence of the government's practical commitment. This project sends a message of hope to drought-affected areas and brings promise to farmers cultivating land in anticipation of productive harvests.
The Ministry of Rural Rehabilitation and Development (MRRD) is actively implementing major long-term development projects across Afghanistan, and the Qadis Dam in Qadis District holds particular significance. Located approximately 70 kilometers from the provincial center, Qala-e-Naw, the dam spans the Qadis River and plays a vital role in local water resource management. In addition to mitigating flood risks, it supports agricultural irrigation and livestock needs.
The dam has a water storage capacity of nearly three million cubic meters and is constructed at a height of 32 meters. The project, funded through the MRRD's development budget at a cost of approximately USD 12.5 million, represents a positive step toward national economic self-sufficiency and sustainable project financing. Currently, construction is more than 60 percent complete, reflecting efficient management and rapid progress. Upon completion, the dam will irrigate approximately 1,400 hectares of farmland, increase agricultural production, and enhance livestock development.
The Qadis Dam is more than just a water storage facility; it is a promise of improved livelihoods for farmers, herders, and rural communities in Badghis. Once operational, it will provide sustainable water to thousands of families and open new avenues for agricultural, livestock, and economic development. The project exemplifies the government's practical commitment, the dedication of local communities, and a long-term vision for sustainable development.
For every household, the Qadis Dam represents hope; for every farmer, it guarantees harvest; and for every child, it signifies a brighter and more secure life. This project marks the end of long-standing hardships and the beginning of a new chapter of hope and prosperity for the people of Badghis.

# Prime Minister Accepts Credentials of Qatar's New...

...State of Qatar to Afghanistan, during an official ceremonial event.
The ceremony was held at Gulkhana Palace and attended by Mawlavi Amir Khan Muttaqi, Minister of Foreign Affairs, and Dr. Mullah Abdul Wasi, Chief of Staff of the Prime Minister's Office.
The Prime Minister of Afghanistan extended a warm welcome to the new Ambassador.
Following the ceremony, the Ambassador conveyed the greetings and best wishes of the leadership of Qatar to Mullah Mohammad Hasan Akhund, reaffirming Qatar's sincere desire for peace, stability, and continued progress in Afghanistan.
Mr. Mirdef bin Ali Alqashouti expressed his gratitude for the warm reception and stated that it is an honor to begin his mission in Afghanistan as Qatar's Ambassador. He reiterated his commitment to strengthening bilateral relations and fostering continued cooperation between Qatar and Afghanistan.
The Prime Minister expressed hope that the new Ambassador's mission would further enhance diplomatic relations between the two countries and requested that his greetings and best wishes be conveyed to the leadership of Qatar.
The Prime Minister also highlighted the longstanding relations between Afghanistan and Qatar, expressed appreciation for Qatar's support during challenging times, and expressed optimism for further growth in bilateral cooperation.
At the conclusion of the ceremony, Mawlavi Amir Khan Muttaqi, Minister of Foreign Affairs, welcomed the new Ambassador, recalling his previous interactions with senior officials of the Islamic Emirate at Qatar's Political Office. He assured the Ambassador of full support and wished him success in his mission.

# NPC Approves 11 Projects Worth Approximately...

...The ninth reinforcement lot of Yatim Tapa in Darqad District of Takhar Province; rehabilitation of the runway at Ghor Airport; award of operation and maintenance contracts for Kabul International Airport; construction of more than 17 kilometers of the Dahn-e-Ghori road in Baghlan; construction of the Zargarano–Gardez City road in Paktika; procurement of mining equipment for the Northern Coal Enterprise; procurement of required vehicles for the Afghan Tour State-owned Enterprise; construction and installation of substations from Qarabagh and Muqur to Shahjui; the power supply of Musahi District of Kabul, including construction materials, installation and assembly; and the surveying, design, and testing contracts for the 220-kilovolt Barikab Substation of the same province.
It is noteworthy, that the approved projects will be financed by the Islamic Emirate of Afghanistan.

# Paltuni Dam in Paktika Province Reaches 25% Completion

The Paltuni Dam is one of the major and strategic projects of the Ministry of Water and Energy, located in Paktika Province. The dam is designed with a height of 41.2 meters and a storage capacity of 25 million cubic meters of water. Its primary objectives include effective water resource management, irrigation of agricultural land, reduction of flood-related damage, and energy generation. Upon completion, the dam will irrigate approximately 25,000 hectares of agricultural land, significantly enhancing Paktika's agricultural production capacity. In addition, the facility will generate up to 1 megawatt of electricity, meeting a considerable portion of the local population's energy needs and contributing to the expansion of regional economic activities. The Paltuni Dam is not only important for water storage but also plays a vital role in flood control, groundwater recharge, and supporting economic development. To date, 25% of the construction work has been completed, and hundreds of citizens have gained direct employment through the project.

# Rescue of 14 Women from Domestic Violence in Logar...

...successfully prevented three cases of forced marriage in various areas of Logar Province.
Officials stated that efforts to safeguard women's Sharia rights and prevent domestic violence in the province are ongoing and will continue with full commitment.

# Deputy PM Meets EU Director-General for Civil Protection and...

...European Union's commitment to supporting the people of Afghanistan. He noted that the EU operates independently and is working to accurately assess the needs of the Afghan people in order to provide effective and meaningful humanitarian assistance.
Mr. Papaconstantinou expressed appreciation for the nationwide security and the progress achieved in Afghanistan, stating that EU operational teams can now directly engage with communities and deliver the Union's aid packages in a transparent manner.
He further stated that the European Union is developing programs focused on youth employment and assistance for returning refugees, while also working to mobilize additional support from other humanitarian organizations.
In response, the Deputy Prime Minister welcomed Mr. Papaconstantinou and his delegation, expressing gratitude for the European Union's humanitarian cooperation with the people of Afghanistan, particularly in support of returning refugees and those affected by recent earthquakes. The Deputy Prime Minister highlighted Afghanistan's positive relations with EU member states and emphasized the importance of further strengthening cooperation in political, economic, and cultural fields. He remarked that the Afghan people have suffered greatly during decades of imposed conflict and continue to require support across various sectors. In conclusion, Mawlavi Abdul Salam Hanafi stated that no issues exist between Afghanistan and the European Union, reaffirming that the Islamic Emirate of Afghanistan seeks positive and mutually respectful relations with all countries of the world.

# Kabul and Tehran Expand Cooperation in the Production of Medicines and...

...The Deputy Prime Minister for Economic Affairs expressed his appreciation to the Iranian side and assured them that the relevant institutions of the Islamic Emirate of Afghanistan will provide full cooperation and joint efforts in these areas.

# Cargo Terminal Worth AFN 502 Million Under Construction in Kandahar

The construction of a modern cargo terminal in Daman District of Kandahar Province is progressing rapidly, as part of efforts to strengthen the transport sector and create enhanced commercial facilities.
The terminal, which is being built on 582 jeribs of land at a cost exceeding 502 million Afghanis, is expected to be completed within a three-year period.
The project includes the construction of the main terminal building, organized parking areas for heavy cargo vehicles, internal roads, electricity and water supply networks, administrative offices for transport companies, a dedicated facility for fire-fighting equipment and personnel, and other related infrastructure. Officials stated that upon completion, the terminal will help organize transportation operations, accelerate commercial activities, and create increased employment opportunities.

# Substation Project Approved for Barikaab Industrial Park in Parwan



The project for the construction of a 220/20 kV electrical substation at the Barikaab Industrial Park in Parwan Province; considered a key initiative for strengthening national industrial growth and the power grid; has been approved by the Economic Commission at an estimated total cost of nearly 360 million Afghanis.
It has been planned that, following the signing of the contract, the project will be completed within approximately 18 months. Upon completion, the project will provide reliable and sustainable electricity not only to the Parwan Industrial Park, but also to numerous residential buildings, commercial centers, healthcare institutions, and other related sectors.

# د ریاست الوزراء اداري مرستیال د اروپايي ټولنې د ملکي خوندیتوب او بشري مرستو عمومي عملیاتي...

...خوښي وښوده او وې ویل، اوسمهال زموږ کاري ټیمونه کولای شي مخامخ له خلکو سره اړیکه ونیسي او د دغې ټولنې مرستندویه بستې په شفاف ډول هغوی ته ورسېږي.

نوموړي همداراز وویل، اروپايي ټولنه ځوانانو ته د کارموندنې او راستنو شویو کډوالو سره د همکارۍ پر پروګرامونو کار کوي او د بشري بنسټونو لخوا د لا زیاتو مرستو برابرولو لپاره هڅه کوي.

په مقابل کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د اروپايي ټولنې د ملکي خوندیتوب او بشري مرستو عمومي عملیاتي رئیس او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست ترځنګ له افغان ملت په ځانګړې ډول راستنو شویو کډوالو او زلزله ځپلو سره د اروپايي ټولنې د بشري مرستو مننه وکړه.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال اروپايي ټولنې سره د افغانستان د نیکو اړیکو یادونه وکړه او په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې یې د اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي څرګنده کړه، چې د تحمیلي جګړو له امله افغانانو ډېر زیانونه لیدلي او په مختلفو برخو کې همکاریو ته اړتیا لیدل کېږي.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي د خپلو خبرو په پای کې وویل، د افغانستان او اروپايي ټولنې تر منځ هیڅ ډول ستونزه نشته او د افغانستان اسلامي امارت د متقابل احترام پر اساس له ټولې نړۍ سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی.

# د ریاست الوزراء مقام د دفترعمومي رئیس د حسن بصري رحمه الله جامع جومات جوړونکي...

...دوی د حسن بصري (رح) جامع جومات د جوړولو چارو د بشپړېدو د مبارکي ترځنګ د هیواد د ابادي او پرمختګ په برخو کې اسلامي امارت ته د هراړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

وروسته د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس د حسن بصري (رح) نوي جامع جومات د ابادۍ په چارو کې د افغان انجنیرانو، مسلکي کاریګرو او ټولو کارکوونکو هلې ځلې وستایلې او هغوی ته یې د خیر او فلاح دعا وکړه.

محترم ډاکټر ملا عبدالواسع زیاته کړه، زموږ نهايي کوښښ دا وو چې د یاد جامع جومات په جوړولو کې له خپلو داخلي تولیداتو او د افغان انجنیرانو او کاریګرو له تجربو استفاده وکړو چې لله الحمد په دې کې بریالي هم شو.

د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس دوی ته په خطاب کې وویل، په اخلاص او پاک نیت د وطن د ابادۍ او د افغان ولس د هوساینې او خدمت لپاره کار وکړئ، ځکه پدې کې زموږ د دنیا او اخرت بریا نغښتې ده.

د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع او د اسلامي امارت مرستیال ویاند له لوري د حسن بصري رحمه الله جامع جومات په جوړولو کې ورګډ کسانو ته د ستاینلیکونو له ورکړې وروسته د خیر په دعائې سره په دې مناسبت جوړ شوي مراسم پایته ورسېدل.

# آغاز کار ساخت و ترمیم ۱۳۵ کیلومتر سرک در مربوطات ولایت...


...آژانس باختر: کار ساخت و ترمیم ۱۳۵ کیلومتر سرک در ولسوالی‌های چهارسده، شهرک، دولت‌یار و تیوره‌ی ولایت غور، در چارچوب برنامه کار در بدل غذا، از سوی ریاست احیا و انکشاف دهات این ولایت، با همکاری تخنیکی مؤسسه CRD-SA و تمویل مالی برنامه جهانی غذا (WFP) آغاز شده است.

مسئولان ریاست احیا و انکشاف دهات غور می‌گویند که هدف از تطبیق این پروژه، ایجاد فرصت‌های کاری برای باشندگان مناطق روستایی و در کنار آن، بهبود زیرساخت‌های ترانسپورتی می‌باشد.

به گفته مسئولان، در جریان اجرای این پروژه، علاوه بر ساخت و بازسازی سرک‌های روستایی، بسته‌های غذایی شامل آرد، روغن، دال و نمک نیز برای ۱۵۰۰ خانواده در نظر گرفته شده است.

ریاست احیا و انکشاف دهات غور تاکید دارد که با تکمیل شدن این پروژه، مشکلات ترانسپورتی در مناطق یادشده تا حد زیادی برطرف خواهد شد.

# ملي تدارکاتو کمیسیون د څه باندې ۱.۵ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۱ پروژې...








...منظورې شوې او په ۱۵ پروژو کې بیا یولړ تعدیلونه راغلل.

همدارنګه د یوې پروژې قرارداد فسخه، یوه اعاده او د دوو پروژو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې د پروژې هر اړخیزه ارزونه وکړي او پایلې یې د ملي تدارکاتو کمیسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شویو پروژو کې د تخار ولایت د درقد ولسوالۍ یتیم تپې د تحکیماتو نهم لاټ، د غور د هوايي ډګر د ځغاستلیکې ترمیم، د کابل نړیوال هوايي ډګر د حفظ او مراقبت قرار دادونو ورکړه، د بغلان د دهنه غوري څه باندې ۱۷ کیلومتره سړک جوړول، د پکتیکا د زرګرانو ـګردیز ښار سړک جوړول، د شمال ډبرو سکرو امارتي شرکت ته د معدني وسایلو پیرودل، د افغان تور امارتي شرکت د اړتیا وړ موټرو پیرودل، له قرباغ او مقر څخه ترشاه جوی پورې د سب ستیشنونو جوړول او نصب، د کابل موسهي ولسوالۍ د برق رسونې، ساختماني موادو، نصب او مونتاژ او د دغه ولایت د باریکاب د ۲۲۰ کیلوولټه سب سټیشن د سروې، ډیزاین او تیست د ورکړې قراردادونه شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

# په پکتیکا کې د پلتوني بند چارې ۲۵ سلنه...



...پلتوني بند د اوبو او انرژي وزارت له مهمو او ستراتیژیکو پروژو څخه دی، چې په پکتیکا ولایت کې موقعیت لري. دغه بند ۴۱.۲ متره لوړوالی لري او د ۲۵ میلیون متر مکعبه اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري. د بند جوړولو اساسي موخه د اوبو منابعو مدیریت، کرنیزې ځمکې خړوبول، د سیلابونو د زیانونو کمول او د انرژۍ تولید دی.

د بند په جوړېدو سره به شاوخوا ۲۵۰۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي، چې د پکتیکا ولایت د کرنیز تولید ظرفیت په زیاتوالي کې ستره ونډه لري. سربېره پردې، دغه بند د ۱ مېګاواټ پورې برېښنا هم تولیدوي، چې د سیمې اوسیدونکو د برېښنا اړتیاوې تر ډېره پوره کوي او د سیمه‌ییزو اقتصادي فعالیتونو د پراختیا زمینه برابروي. پلتوني بند یوازې د اوبو ذخیره کولو لپاره نه دی، بلکې د سیلابونو د کنټرول، د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې او د اقتصادي ودې د موخو لپاره هم مهم رول لري. تر دې دمه د بند د جوړونې چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي او په دې پروژه کې سلګونو هېوادوالو ته په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

# نجات ۱۴ زن از خشونت خانوادگی در...

...اخیراً، ۱۴ زن قربانی خشونت خانوادگی در مرکز و ولسوالی‌های ولایت لوگر، با تلاش پیگیر منسوبین ریاست امر بالمعروف، نهی از منکر و رسیدگی به شکایات، نجات یافتند.

این زنان که سال‌ها به دلیل خشونت خانوادگی از حقوق شرعی خود محروم مانده بودند، اکنون دوباره از حقوق شرعی خود بهره‌مند شدند. در میان آنان، زنی در ولسوالی برکی برک که به مدت ۵۰ سال در اسارت خانگی و تحت خشونت قرار داشت، با تلاش ریاست نامبرده رهایی یافته و حقوق شرعی‌اش بازگردانده شد.

همچنین، منسوبین این ریاست موفق شدند از وقوع سه مورد ازدواج اجباری زنان در مناطق مختلف ولایت لوگر جلوگیری کنند.

مسئولان اعلام کردند که تلاش‌ها برای تأمین حقوق شرعی زنان و پیشگیری از خشونت‌های خانوادگی در این ولایت به صورت مستمر ادامه دارد.

# یک بند آب‌گردان در غور تکمیل و به بهره‌برداری سپرده...

...ریاست آب و انرژی ولایت غور از تکمیلی کار یک بند آب‌گردان «چک‌دم» در ولسوالی فیروزکوه، مرکز این ولایت، خبر داده است.

مسئولان این ریاست می‌گویند، این پروژه در قریه پیلوی‌سرخ موقعیت داشته و با هزینه ۳ میلیون و ۶۰۶ هزار و ۱۰۰ افغانی، تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شده است.

بر اساس معلومات این ریاست، این چک‌دم ظرفیت ذخیره نمودن ۴۴۸۰ متر مکعب آب را داشته که از آن ۷۰۰ فامیل به‌طور مستقیم و صدها فامیل دیگر به‌طور غیرمستقیم نفع خواهند برد.

# حل و فصل ۱۶ منازعه و پایان یک دشمنی ۲۱ ساله در...

...ریاست امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت سرپل، در راستای تحکیم همبستگی اجتماعی و کاهش تنش‌ها میان اقوام و خانواده‌ها، اخیراً موفق به حل و فصل ۱۶ مورد منازعه و پایان یک مورد دشمنی دیرینه در مرکز و ولسوالی‌های این ولایت گردیده است.

مسئولان می‌گویند که محتسبین این ریاست با برگزاری نشست‌های متعدد، میانجی‌گری میان طرف‌های منازعه و بهره‌گیری از روش‌های مبتنی بر آموزه‌های اسلامی، توانسته‌اند مشکلات و سوءتفاهم‌های چندین‌ساله را از طریق تفاهم و مصالحه برطرف سازند.

این تلاش‌ها گامی مؤثر در جهت تحکیم وحدت، تقویت همبستگی اجتماعی و کاهش تنش‌های اجتماعی در سطح ولایت سرپل به‌شمار می‌رود.

ریاست امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت سرپل از تمامی شهروندان این ولایت خواسته است تا در راستای استحکام وحدت ملی و حل مسالمت‌آمیز اختلافات، همکاری و تعامل مثبت خود را با نهادهای ذیربط، به‌ویژه این ریاست، ادامه دهند.

# ارزګان کې د نږدې ۱۳ میلیونو افغانیو په لګښت یو شمېر...

...د ارزګان ولایت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست وايي، د چینارتو او چهارچینو ولسوالیو په سیاه‌غار شمالي، پیرجوتې او خارخوردې سیمو کې د څه باندې ۱۲ میلیونو او ۸۰۰ زرو افغانیو په لګښت د اوبو رسولو درې شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغه ریاست مسئولین وايي چې په دې پروژه کې د ۶۰، ۴۰ او ۲۰ متره مکعب په اندازه د درې ژورو څاه‌ګانو کیندل، د پاکو اوبو درې ذخیرې جوړول، د ۶۶۰۲ مترو په اوږدوالي پایپ غځول، او د ۱۹۸ شیردهنونو نښلول شامل دي. د ریاست په وینا، د دغو شبکو په بشپړېدو سره د یادو سیمو ۵۰۲ کورنیو ته د څښاک پاکو اوبو د لاسرسي ترڅنګ لسګونو تنه هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت




صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# کابل او تهران د درملو او طبي وسایلو د تولید په برخه کې همکارۍ پراخوي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د ایران د روغتیا وزارت مرستیال او د خوړو او درملو اداري له رئیس مهدي پیر صالحي او په افغانستان کې د ایران له سفیر علي رضا بیکدلي سره وکتل.
د لیدنې پرمهال د ایران د روغتیا وزارت مرستیال وویل، ایران چمتو دی چې له افغانستان سره د درملو او طبي وسایلو د تولید او افغانستان ته یې د صادراتو د زیاتوالي په برخه کې خپلې همکارۍ د اوږدمهال لپاره پراخې کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري مننه وکړه او داډ یې ورکړ، چې په یادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوندې اداري ورسره پوره همکاري او ګډ کار وکړي.

# د ریاست الوزراء اداري مرستیال د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو عمومي عملیاتي...

...د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو عمومي عملیاتي رئیس اندریاس پاپا کونستانتینو او ورسره پلاوي سره وکتل.
په دې لیدنه کې، چې په افغانستان کې د اروپايي ټولنې استازولۍ شارژدافیرې ویرونیکا بوسکوویچ هم حضور درلود، ښاغلي اندریاس پاپا کونستانتینو له افغانانو سره د اروپايي ټولنې د ژمنتیا ډاډ ورکړ.
نوموړي وویل، اروپايي ټولنه په خپلواکه توګه عمل کوي او هڅه کوي د خلکو اړتیاوې په دقیق ډول تشخیص او له افغان ملت سره اغېزناکې مرستې وکړي.
د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو عمومي عملیاتي رئیس په افغانستان کې د سراسري امنیت پر تأمین او ترسره شویو پرمختګونو...

۵

# جلسهٔ کمیسیون اداری تحت ریاست معاون اداری ریاست الوزراء برگزار گردید


جلسهٔ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با حضور اعضای کمیسیون متذکره برگزار گردید.
در این جلسه، ابتدا کمیته‌های مؤظف راجع به کارکردها و اجراآت شان پیرامون وظایف سپرده شده از سوی این کمیسیون گزارش ارائه کردند. سپس روی موضوعات مربوط ریاست عمومی ادارهٔ امور، مقام ولایات بغلان و ننگرهار و همچنان در مورد رفع تداخل وظیفوی میان ادارات امارتی بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ شد. در اخیر جلسه، جهت تدقیق بیشتر روی سایر موضوعات شامل آجندا به کمیته‌های جداگانه وظیفه سپرده شد.

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر امارت اسلامی در ترکیه

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با محترم شیخ صنیع الله فرهمند سفیر امارت اسلامی در ترکیه دیدار نمود.
در این دیدار محترم شیخ صنیع الله فرهمند ابتدا راجع به کارکردها و برنامه‌های این سفارت گزارش ارائه کرد و گفت که مسئولین سفارت متذکره در تقویت و تحکیم روابط دو جانبه در عرصه‌های مختلف همیشه تلاش کرده اند که در این راستا نتایج قابل ملاحظه‌یی نیز بدست آمده است.
وی از کارکردهای سفارت افغانستان در ترکیه در زمینه های مختلف به ویژه تسهیل در روند توزیع تذکره‌های الکترونیکی به مهاجرین افغان، یادآوری کرده، گفت که ارائه خدمات به افغان‌های مقیم ترکیه در اولویت های ما قرار دارد.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با ابراز خرسندی از این دیدار، فعالیت‌های سفارت امارت اسلامی در ترکیه را مورد تحسین قرار داد.
معاون اداری ریاست الوزراء با تأکید بر حل مشکلات تاجران و سایر تبعهٔ افغانی در ترکیه توسط مسئولین این سفارت، گفت که لازم است در قسمت گسترش روابط افغانستان و ترکیه در بخش‌های تجارتی، سیاسی و فرهنگی بیشتر تلاش صورت گیرد.

# د ریاست الوزراء مقام د دفترعمومي رئیس د حسن بصري رحمه الله جامع جومات جوړونکي تقدیر کړل

د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع په ارګ کې د حسن بصري رحمه الله جامع جومات د ابادۍ په چارو کې یو شمېر ونډه اخیستونکي، تقدیر کړل.
په دې مراسمو کې چې په ارګ کې ترسره شول او د افغانستان اسلامي امارت مرستیال ویاند محترم ملا حمدالله فطرت هم حضور درلود، په پیل کې د افغان هاوس شرکتونو ګروپ رئیس محترم غلام محمد حق دوست او د برادران عادل ګروپ شرکت رئیس محترم محمد شفیع نورزايي د نورو په استازولۍ د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس په ګډون د یاد جومات په جوړولو کې د ټولو د هراړخیزې همکاري مننه وکړه...




۵

# آغاز کار ساخت و ترمیم ۱۳۵ کیلومتر سرک در مربوطات ولایت غور




۵

# ارزګان کې د نږدې ۱۳ میلیونو افغانیو په لګښت یو شمېر پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



۵

# یک بند آب‌گردان در غور تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد



۵

# حل و فصل ۱۶ منازعه و پایان یک دشمنی ۲۱ ساله در ولایت سرپل

۵